نویسنده: داکتر نصیر احمد زی | تاریخ: 26 اپریل 2024

# شیطاني مثلث!




نن د پرمختللې افغانستان غوښتونکي او د عصري قوانینو بنسټګر او ریفورمیست امیر غازي شاه امان الله خان له ۶۴ تلین سره برابره ده. نوموړي په ۱۹۶۰ کال د اپرېل پر ۲۵ د سویس په زوریخ کې په جلا وطنۍ کې وفات شو .

**غازي شاه امان الله خان،**

له نن څخه ۱۰٤ کاله د مخې د زمری په ۲۸ کال ۱۲۹۸ لمریز، کې د افغانستان خپلواکي له بریتانوي ښکیلاک څخه اعلان کړه، چې دا ویاړ زموږ د تاریخ زریني کرښې جوړوي .انګریزان د ځوان او مترقي غوښتونکي پادشاه له کړنې وارخطا او ناراضه وو. دا ځکه چې ځوان پادشاه د هیواد سمسورتیا او د خپل ولس سوکالي غوښتله. غازي امان الله خان په لنډه موده کې وکړي شول کڼ شمیر ښونځي دهیواد د نوي نسل روزلو لپاره پرانیزي، په زرګونه ځوانان لوړو او مسلکي زدکړو لپاره بهرني هیوادونو ته واستوئ، د معارف ترڅنګ کلتوري انقلاب ېې رامنځته کړ. کڼ شمیر مجلهٔ اواخبارونه ېې د عامه پوهاوي لپاره چاپ او نشر کړل، د لسګونه بنسټیزي پروژو عملي کارونه پیل او زرګونوخلکو ته پکښې د کار زمینه برابره شوه.

خو، انګریزانو دا هرڅه نشوای زغملای دا ځکه چې انګریزي ښکیلاک ته حتی د لمر ناسته په دوي په مستعمره کې د منلو نه بریښیده، دا په داسي حال کې چې یو ځوان افغان لکه لمر د دوی په زړه کې د ځپلواکۍ څرک او لمبي بلې کړی او د بلې لوري د افغانستان خپلواکي غږ نورو مستعمره هیوادونو ته هم روح وربخښې، له همدې مخې په بریتانیاوی هند کې هم د ښکیلاکګرو پروړاندي د خپلواکۍ غږونه راپورته کیږي .

انګریزان وارخطا شوي، او باید لاس په کار شي. دوی خپل ټول استخباراتي قوت د شاه پرضد کارولي ترڅو خپل غچ واخلي.

انګریزان د ځوان پاچا له ملی احساسات او اشتباهاتو(د هیواد کلتوري جوړښت ته نه پاملرنه او د اوږدې مودې لپاره خپلې میرمنې ملکه ثریا سره اروپایي هیوادونو ته سفر)، څخه په کټې اخستنې سره وتوانېدل یو شیطاني مثلث د پاچا پرضد رامنځته کړي- .

-د دین ترعنوان لاندې عالمان او ملایانو -

-کوڅه ډبي، غله او قماربازان

-له سلطنت څخه شړل شوي لوړپوړي مامورین

انګریزانو دا دریې ډلې سره یوځای او د پاچا پرضد یې وکارولې، ترهغه چې په کال ۱۳۰۷ د مرغومی په ۲٤ د یو کوڅه ډبي، غله او قمارباز په مشري د هیواد د ترقي سالار او نظام رانسکوره کړ او هیواد یې په کلونو کلونو د تمدن له کاروان څخه په شاه کړ

.هو ! غازي شاه امان الله د خپلواکۍ یوازنی محصل پاتي شوي، روح دی ښاد او یاد دی تل پاتي وي!

موږ ټول یې پوروړي یو.

یادونه؛ بریتانیاوی یرغلګرو څه د پاسه ٦۰ هیوادونو ترخپلې مستعمره لاندې نیولې وو، چې بیلګي یې به دې لست کې لیدلی شی:

. Afghanistan -1919, Antigua and Barbuda, Australia-1901
1986, The Bahamas-1973, Bahrain-1971, Barbados-1966 Belize-1981,
Botswana-1966, Brunei-1984, Canada-1867–1982-(From 1949 this included
Egypt-1922 Fiji- ،Newfoundland and Labrador). Cyprus-1960 Dominica-1978
Iraq-1932 ،India-1947 ،Grenada-1974 ،Ghana-1957 ،The Gambia-1965 ،1970
،Kenya-1963 ،Jordan-1946 ،Jamaica-1962 ،Ireland – 1948 ،(British Mandate)
،Malaysia-1957 ،Malawi-1964 ،Lesotho-1964 ،Kuwait-1961 ،Kiribati-1979
،Nauru-1968 ،Myanmar-(Burma) ،Mauritius-1968 ،Malta-1964 ،Maldives-1965
St lucia- ،Qatar-1971 ،Pakistan-1947 ،Nigeria-1960 ،New Zealand-1907–1986
،St Vincent and the Grenadina lines-1979 ،Saint Kitts and nevis-1983 ،1971
South Africa-1910– ،Soliman islands-1978 ،Sierra lione-1961 ،Seychelles-1976
Tonga- ،Tanzania-1961 ،Swaziland-1968 ،Sudan -1956 ،Sri Lanka-1948 ،1961
United Arab ،Uganda-1962 ،Tuvalu-1978 ،Tobago-1962 ،Trinidad and ،1970
،Zambia-1964 ،Yemen-1967 ،Vanuatu-1980 ،Emirates-1971 United States-1776
Zimbabwe-1980

***

گفتمان ملی افغانستان
د افغانستان ملی خبری اتری
NATIONAL DISCOURSE OF AFGHANISTAN